education above all
التعليم فوق الجميع

# زما انساکلوپیډیا (دوهمه درجه)

| | |
|---|---|
| **توضیحات** | زده کوونکي به خپل د انسایکلوپیډیا رسالې (واړه کتابونه) جوړ کړي؛ خپل لوغاتونو ته به پیاوړتیا ورکړي؛ همدا راز هغوی به خپلو علاقو (د خپل د خوښې) د شیانو او پدیدو په اړه د ځینو په زړه پورو نقطو په پوهیدو سره خپل معلومات زیات کړي |
| **مخکښه پوښتنه** | آیا تاسو کولی شی د هغو په زړه پورې شیانو په اړه یو کتاب ولیکئ چې تاسو پرې خبر یاست؟ |
| **ټولټال اړین وخت** | په پینځو ورځو کې ۵ ساعته |
| **د اړتیا وړ سرچینې** | کتابچه، پنسل، پنسل پاک، او رنګې |
| **د زده کړو پایلې** | • د کتابونو سره په اړیکه جوړولو، د کیسو په ویلو، کلماتو، تورو او غږونو په پوهاوي سره معلومات په سم ډول وړاندې کول<br>• غږونو او تورو ته په سم ډول ځواب ورکول او لوستل<br>• د مبرم لیکلو خصوصیت ښکاره کول<br>• لیکل شوي معلومات په سم ډول سره وړاندې کول<br>• خپل لیکل د املاء او نښې ورکوونې له پلوه په سمه توګه تنظیمول او چمتو کول<br>• د لیکلو سمې سټراټیجی یا تګلارې چمتو کول<br>• د درې عدده شمیرو مکاني ارزښت<br>• د کسرونو، اعشاریه عددونو او سلنې (فیصدې) تبدیلول |
| **مخکینیو زده کړو ته اړتیا** | د نښې ورکوونې (علامه ګذارۍ) په شمول د ګرامر (ژب دود) قوانین |


# لومړۍ ورځ

نن ورځ به تاسو د انسایکلوپیډیا په اړه فکر وکړی. انسایکلوپیډیا داسې یو کتاب دی چې د یوې یا ډېرو موضوع ګانو په اړه معلومات لري.


| **وړاندیز شوی وخت** | **فعالیت او توضیحات** |
|---|---|
| | |

| | |
|---|---|
| ● په دې پروژه کې زمونږ موخه د یو انسایکلوپیډیا یو داسې کتاب چمتو کول دي چې ۲۴ بیلابیل کلمات په کې کارول شوي وي او د لوستلو لپاره ډیر جالب او په زړه پورې واوسي.<br>● د ۲۴ بیلابیلو کلمو د کارولو لپاره یوځو مختلف اختیارونه شتون لري.<br>- لومړۍ کټګوري: نوي یا وروستني معلومات. هغه کلمات یا لغاتونه چې تاسو په تیرو IFERB پروژو او یا هم د ښوونځي په ځینو فعالیتونو کې زده کړي دي. د بیلګې په توګه، د جاذبې قوه، د تجزیې وړ (د رنګیدو وړ یا بایوډیګریډیبل)<br>- دوهمه کټګوري: د لاس رسي وړ معلومات/پوهنه. هغه شیان چې د زده کوونکي شا اوخوا کې دي او زده کوونکی ورسره لیوالتیا ولري. د بیلګې په توګه، یو یخچال (فریج) څنګه کار کوي، د لوبو یو شی څه دی او داسې نور.<br>- دریمه کټګوري: د ژبې په اړه پوهاوی/اکتساب. د خپلې مورنۍ ژبې هغه لغاتونه چې زده کوونکي پرې پوهیږي خو تر اوسه یې په انګلیسي کې نه وي زده کړي. | ۵ دقیقې |
| - څلورمه کټګوري: عمومي معلومات. د اسمونو، فعلونو، قیدونو او صفتونو یو ترکیب یا غورچاڼ<br>● لارښوونه:<br>- اسم یوه داسې کلمه یا عبارت دی چې د یو شي، شخص، ځای او یا هم نظریې د نوم لپاره کارول کیږي. د بیلګې په توګه، نلسن منډیلا، د امازون ځنګلونه، مبایل<br>- فعل یو داسې کلمه ده چې د عمل، احساساتو او حالت د ښودلو لپاره کارول کیږي. د بیلګې په توګه: منډه وهل، خیز وهل، فکر کول، او داسې نور.<br>- قید یوه داسې کلمه ده چې د فعل، قید او صفت د توصیف کولو لپاره کارول کیږي. ډیری وخت یو قید مونږ ته د عمل درجه، څرنګوالی او وخت راښیي. د بیلګې په توګه: په کراره کراره توګه، په آسانۍ سره، پورته، لاندې او داسې نور.<br>- یو صفت یوه داسې کلمه ده چې د خلکو، شیانو او یا دځایونو په اړه مونږ ته ډیر معلومات راکوي. د بیلګې په توګه: ښایسته، پراخه، خوږ او داسې نور.<br>● زمونږ وړاندیز د څلورو مخکینیو کټګوریو د ترکیب کارول دي او همدا راز، د ددغو ۴ کټګوریو څخه لږ ترلږه د ۶ کلمو کارول دي. او کچیرته زده کوونکو د IFERB پروژې مخکې نه وي کارولې، هغوی باید لږ تر لږه له دغو کټګوریو څخه ۳ کټګورۍ وکاروي. | |

| | |
|---|---|
| **۱۵ دقیقې** | • د هرې لیکنې لپاره د بیلابیلو علامه ګذاریو څخه کار واخلئ.<br>• هغه معلومات چې علامه ګذاري یې ستاسو په لیکنو کې اضافه کوي په لاندې ډول سره دي:<br>- د پای نقطه: د هرې بشپړې جملې په پای کې د پای نقطه کارول کیږي. د بیلګې په توګه:<br>زه په خپل موټرسایکل باندې چکر ته ولاړم.<br>- سوالیه (د پوښتنې نښه) – دا د پوښتنو ښودلو لپاره کارول کیږي. د بیلګې په توګه:<br>تاسو څو کلن یاست**؟**<br>- ندایه (د تعجب نښه) – دا نښه د تعجب یا حیرانتیا ښودلو لپاره کارول کیږي. د بیلګې په توګه:<br>نن زما د زوکړې ورځ ده**!**<br>- کامه: په یوه قطار کې د کلماتو تر منځ د وقفې راوستلو لپاره کارول کیږي. د بیلګې په توګه:<br>سارا، آدم، او نادیه پارک ته ولاړل.<br>- شارحه (کالن): دا دیوه لیسټ د معرفي کولو لپاره کارول کیږي. د بیلګې په توګه:<br>د غرمې خوارو لپاره ما څینې شیان چمتو کړل چې په دا ډول دي: یوه مڼه، یو قطی جوس او یو اندازه چپس.<br>- سیمي کالن: دا د دوو مرتبطو جملو د جدا کولو لپاره کارول کیږي. د بیلګې په توګه:<br>زما ورور ډیر څیرکه دی؛ د هغه ډیر زیات خوښیږي چې کتابونه ولولي.<br>- آپاسټرافي: دا به انګلیسي کې د دوو کلمو د لنډیز لپاره کارول کیږي.<br>- کوټیشن مارکس: دا د یوچا د خبرو د ښودلو لپاره کارول کیږي. د بیلګې په توګه:<br>**"**هله ژر شه! مونږ لوبه وګټله**"** |
| **۲۰ دقیقې** | • د کتاب شکل داسې جوړ کړئ چې ډیر ښکیل کوونکی معلوم شي. دداسې معلوماتو او انځورونو په اړه فکر وکړئ چې هغه د لوستونکو لپاره ډیر زړه راښکونکی وي او تاسو یې غواړئ په خپل کتاب کې اضافه کړئ.<br>• د لاندې لارښوونو پر بنسټ د لومړۍ ورځې څخه د ۴ کلمو په کارولو سره پیل وکړئ.<br>• د بیلګې په توګه: |



1. د جاذبې قوه: د جاذبې قوه یوه نه لیدونکې قوه ده چې مونږ د ځمکې لور ته کش کوي ترڅو په حوا کې پاتې نه شو او خپل تعادل د لاسه ورنکړو. همدا لامل دی چې مونږ د یوې غونډۍ څخه په ډېرې آسانتیا سره ښکته راتلی شو، او غونډۍ ته ختل ستونزمن دي. همدا راز، په فضا کې د جاذبې قوه نشته او فضاپوهان چې کله ویده کیږي، هغوی مجبور دي ترڅو خپل ځانونه خپلو کټونو پورې وتړي! – (پورته جملو کې د پای نقطه، د نداء نښه، د پای نقطه او بیا د نداء نښه کارول شوي دي.)



2. غوا: غوا یو فارمي څاروی دی چې معمولا په یو غوجل کې ژوند کوي. د غوا لری څلور برخې لري او هغه د ټولې ورځې په اوږدو کې شخوند وهې. مونږ د غوا څخه شیدې لاس ته راوړ او له شیدو څخه لبنیات جوړوو، د بیلګې په توګه: پنیر، مستې، او کوچ. غوا د (امبااا) غږ ترسره کوي. غوا یو ژوندی مخلوق دی ځکه هغه خواړه خوري، څښاک کوي، تنفس کوي او بچیان لري چې ورته خوسیان ویل کیږي.
   - (پورته معلومات یوه د پای نقطه، یو شارحه، کامې او کوټیشن مارکس (د نقل قول نښې) لری)



3. د بنیان ونه: دا یو د لویو ونو څخه ده. دا مونږ ته سوری راکوي ترڅو مونږ یې لاندې کښینو. د بنیان ونې ریښې ددې پرځای چې په ځمکه کې واوسي، د خپلو شاخونو څخه زوړندې دي؛ په دې ریښو کې مونږ کولی شو ټال وخورو. د بنیان ونه یو ژوندی شی دی ځکه چې هغه یو نبات دی او د خپلې تغذیې او ودې لپاره اوبو، د لمر رڼا او خاورې ته اړتیا لري.
   - پورته ذکر شوې جملې یو پای ټکی (نقطه) لري، یو شارحه لري، اپاسټرافي لري او سیمي کالن لري.

| | |
|---|---|
| **د شمیرنې توسعه**<br>• د لاندنې کلمو تعداد په خپل لیست کې وشمیرئ: | **۲۰ دقیقې** |

| | |
|---|---|
| | - اسم، فعل، صفت او قید<br>• د ۲۳ عدد په تناسب ددغو کلمو د شمیر کسرونه، فیصدی او اعشاریه نقطې پیدا کړئ:<br>- د بیلګې په توګه: (6- 25% - 0.25 – ¼) د ډیریو کلمو اسمونه دی، - 40% ~~½ - 0.5 - 50%~~) (2/5 – 0.4 ) فعلونه دي، (1/5 - 0.2 - 20% ~~3/10 – 0.3 - 30%~~) صفتونه دي، او ~~20%~~) (15/100 – 0.15 - 15% ~~1/5 - 0.2 -~~) قیدونه دي.<br>• د خپل لیست څخه د اشیاو سلنه د دوو کټګوریو (ژوندي او غیرژوندي) په مناسبت پیدا کړئ.<br>- د بیلګې په توګه: زما د مثالونو (30% – 0.3 – 3/10) ژوندي شیان دي او ( – 7/10 – 0.7 70%) د غیر ژوندي شیانو مثالونه دي.<br>• په خپلو لیکنو کې د ۲۵ کلمو په تناسب د غږ لرونکو تورو تعداد او بیا د نورو تورو ټولټال تعداد معلوم کړئ او بیا هغه جمع، منفي او ضرب کړئ. د بیلګې په توګه: ۲۶ غږ لرونکي توري دي او ۳۰۰ نور توري، نو مونږ به له زده کوونکو څخه وغواړو چې په لاندې شکل د حساب عملیې ترسره کړي: ۲۶×۳۰۰، ۲۶-۳۰۰، او ۳۰۰ + ۲۶.<br>خپل ځوابونه مناسبو زریزو، سلیزو، لسیزو او یویزو په مکاني ارزښت کې وښایاست. |

## ۲ او ۳ ورځ

نن ورځ به تاسو په ۶ نوو کلمو باندې کار وکړی.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۴۵ دقیقې | • هره ورځ په ۶ کلمو (لغاتونو) باندې کار وکړئ. په هره تشریح کې تاسو باید لږ تر لږه یوځا انځورونه رسم کړئ او سمه نښه ایښودنه (علامه ګذاري) ترسره کړئ. |
| ۱۵ دقیقې | • د شمیرنې توسعه<br>- د هرې علامې حساب له ځانه سره ولری او یو لیسټ جوړ کړئ ترڅو دا معلومه کړئ چې کومه علامه (نښه) تاسو تر ټولو ډیره کارولې ده او کومه نښه مو تر ټولو کمه کارولې ده.<br>- هغه علامه (نښه) چې ډیره کارول شوې ده پیدا کړئ او د هغې څخه دې د ټولټال نښو شمیر منفي کړئ چې تر ټولو ډیره کمه کارول شوې وي.<br>- له دې څخه وروسته دې زده کوونکي اوسط معلوم کړي. هغوی باید د خپل لیسټ څخه د علامو (نښو) شمیر را واخلي او هغه باید جمع کړي او بیا یې باید په کارولو شوو علامو (نښو) باندې تقسیم کړي. د بیلګې په توګه، کچیرته ما ۴ بیلابیلې نښې کارولې وي او زما د ټولو کارول شوو نښو شمیر ۲۰ وي نو (۵ = ۴ / ۲۰) به زما اوسط عدد وي. |

## څلورمه ورځ

نن ورځ به تاسو د خپل انسایکلوپیډیا په کتاب باندې کار کولو ته دوام ورکړی.

| وړاندیز شوی وخت | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۴۵ دقیقې | • هره ورځ په ۶ کلمو (لغاتونو) باندې کار وکړئ او په خپلو تشریحاتو کې هره نښه (علامه) لږ تر لږ یو ځل وکاروئ. |
| ۱۵ دقیقې | • د شمیرنې توسعه<br>- د هرې علامې (نښې) د کارولو یو حساب جوړ کړئ. همدا راز، د هغو علامو (نښو) چې تر ټولو ډیرې کارول کیږي او هغو علامو (نښو) چې تر ټولو کمې کارول شوي دي لیست مشخص کړئ.<br>- یو جدول جوړ کړئ او هر کالم ته په خپل لیست کې د خپلې خوښې رنګ ورکړئ. په یوه بل کالم کې زده کوونکي باید د همدغو شمیرو تکرار لسم ته نیږدې شمیرو پورې جوړ کړي. د بیلګې په توګه، کچیرته هغوی کامه ۱۵ ځله کارولې وي، نو د هغوی د تکرار نیږدیوالی تر ۲۰ پورې دی. |

## څلورمه ورځ

نن ورځ به تاسو خپل کتاب بشپړ کړی او هغه به د خپلې کورنۍ سره شریک کړی.

| وړاندیز شوی وخت | | فعالیت او توضیحات |
|---|---|---|
| ۲۵ دقیقې | | • خپل آخرې ۶ لغاتونه (کلمې) په خپلو تشریحاتو کې د انځورولو او سمې علامه ګذارۍ (نښه) ایښودلو سره پای ته ورسوئ. |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۰ دقیقې | | • ټول ۲۴ یاد شوي لغاتونه (کلمې) د الفباء په ترتیب سره منظم کړئ.<br>• خپل د انسایکلوپیډیا د رسالې (وړوکي کتاب) شکل جوړ کړئ او په انسایلکوپیډیا کې ۲۴ کلمې د توضیحاتو، انځورونو او علامه ګذاریو سره د الفباء په ترتیب چمتو کړئ.<br>• د خپلې انسایکلوپیډیا مخکینۍ او شاتینۍ پوخ ډیزاین (طرح) کړئ. د کتاب په پوښ باندې عنوان او د لیکوال نوم ولیکئ او همدا راز، د کتاب د پوښ د ښکلي کولو لپاره مناسب رنګونه وکاروئ. ستاسو د کتاب عنوان باید ډیر زړه راښکونکی وي او د کتاب د محتوا نمایندګي باید وکړي. د کتاب شاته پاڼه (پوښ) باید د کتاب د محتوا په اړه یو لنډیز ولري او د هغوی یوه نمونه باید پرې ولیکل شي.<br>• له دې څخه وروسته، خپل کتاب خپلې کورنۍ او ملګرو ته وړاندې کړئ ترڅو هغوی تاسو ته خپل نظرونه او وړاندیزونه درکړي.<br>• د کورنۍ او د ملګرو نظر او وړاندیز ورکوونه باید لاندې نقطې له ځانه سره ولري:<br>○ ددغې انسایکلوپیډیا په اړه د هغوی څه ډیر خوښ شول؟<br>○ آیا هغوی کومې پوښتنې لري؟<br>○ د لا ښه والي لپاره واندیزونه<br>• دا نظرونه او وړاندیزونه د خپلې انسایکلوپیډیا د بیا کتنې لپاره وکاروئ. |

| | |
|---|---|
| ۱۵ دقیقې | - د شمیرنې توسعه<br>- د ټولو هغو لغاتونو شمیر محاسبه کړئ چې د الفباء د تورو په ترتیب سره چمتو شوي وي. او بیا داسې یو جدوال جوړ کړئ چې د الف څخه تر یا پورې د تورو کالمونه ولري. له دې څخه وروسته، د ټولو هغو لغاتونو تعداد وشمیرئ چې په هر توري باندې پیل شوی وي.<br>- د هغو تورو سلنه معلومه کړئ چې په ډیر تکراري حروف پرې پیل شوي وي. د بیلګې په توګه، ۳۰ سلنه لغتونه د (ف) په کلمې سره پیل کیږي. فارموله: د هغو عددونو شمیر چې په الف باندې پیل کیږي د ټولټال لغاتونو پر شمیر باندې تقسیم کړئ (وویشئ) او بیا یې په ۱۰۰ باندې ضرب کړئ.<br>- تر ټولو د کمو کارول شوو تورو سلنه محاسبه کړئ. د بلګې په توګه، یواځې ۱ سلنه لغاتونه د (ب) په تورې باندې کارول کیږي.<br>- سلنه د اعشارې کلمو ته تبدیله کړئ<br>په پای کې د خپلې انسایکلوپیډیا د محتوا شاخص په ترتیب سره جوړ کړئ. شاخص له لوستونکو سره مرسته کوي ترڅو هغو معلوماتو ته په آسانۍ سره لاس رسۍ ترلاسه کړي چې دوی یې په لټه کې دي.<br>- خپل کتاب ته د صفحو نمرې ورکړئ. هیڅ شاخص له لوستونکو سره مرسته نه کوي کچیرته د صفحو نمبر له ځان سره ونه لري.<br>- د هغو لغاتونو د لیسټ جوړولو لپاره چې زده کوونکي یې غواړي په خپل شاخص کې ځای پر ځای کړي، زده کوونکي باید د انسایکلوپیډیا د پیل څخه تر پای پورې ټول محتویات ولولئ او خپل لغاتونه د صفحو (پاڼو) د نمبر سره ولیکي. د هغو کلمو تعداد او د صفحو نمبر هم باید لیکئ چې په تکراري ډول سره راغلي وي.<br>- همدغه لغاتونه د خپلو صفحو نمرو سره په شاخص کې ولیکئ.<br><br>د یوه شاخص بیلګه |

| | | |
|---|---|---|
| | شاخص<br>ب<br>......<br>......<br>و<br>ونه ۹<br>وزن ۳۴<br>وراره ۱۵<br>وګړي ۷، ۹، ۱۱، ۲۸<br>ب<br>........<br>....... | |
| ۱۵ دقیقې | په پروژې باندې بیا کتنه (فکر کوونه/انعکاس)<br>د ټولې پروژې په اوږدو کې د خپلو زده کړو او تجربو په اړه فکر وکړئ.<br><br>• په دې پروژه کې ۳ هغه مهم شیان کوم دي چې تاسو زده کړل؟<br>• په دې پروژه کې ۲ کوم داسې شیان دي چې ستاسو ډیر خوښ شول؟ | |

## د ارزوونې معیارونه

- ډیزاین او نووښت (خلاقیت)
- په هره کټګورۍ کې د لغاتونو د تعریف په اړه په انتقادي شکل فکر کول
- په لیکنه کې وضاحت/روڼتیا
- د املاء سموالی
- د علامه ګذارۍ په اړه او د لغاتونو په اړه پوهاوی
- د لغاتونو ډلبندي او ددې ورتیا چې شمیرې په کسر، اعشاریه او سلنه کې معلومې کړی شي

## د غني کوونې اضافي فعالیت

- زده کوونکي کولی شي د خپلې مورنۍ ژبې څخه ځینې لغاتونه وکاروي – د انګلیسي د قاموس په کارولو سره
- زده کوونکي کولی شي تیزارس (چې مترادف ډیر لغاتونه ولري) وکاروي

## د آسانه کوولو لپاره بدلونونه

- زده کوونکي کولی شي د ۱۰ څخه تر ۱۵ پورې لغاتونه کم کړي
- زده کوونکي کولی شي علامه ګذاري (نښه ایښودنه) ساده کړي او د توضیحاتو مقدار کم کړي.